مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۴/۰۸/۲۵

# په مصيبت کې د يواځيتوب احساس

د پوهنځي اخري کال و چې مور مې پر سپين ميدان پرېښودم او روح يې لکه سپينه کوتره اسمان ته والوت. دې الوت يې زما د زړه برجونه را ونړول او د زړګي دنيا يې داسي را ړنګه کړه چې بيا هيڅکله بيرته و نه رغيده.

د رنځورۍ مور، مړيني داسي کاواکه کړم لکه د ګام اخيستلو په مهال چې راځني زمکه تښتي. بيخي يو بل ډول حالت کې وم. هيڅ نپوهيدم چې د غم دومره درونډ پيتی څنګه په کمزوري ځان وکړځوم.

په هغه ورځ مې د يوې ډېرې نږدې او مشرې خپلواني کور ته د تګ اراده وکړه، ما ويل ګوندې ډاډ راکړي او غم مې لږ را سپک شي.

يو ساعت پياده مزل مې کړی و چې کور ته يې ورسيدم، له دروند هرکلي وروسته يې چای راوړ. کيسي يې شروع کړې؛ خو د زمکي د حاصلاتو، د خپلې خرڅې کړې غوا او...

ورو ورو مې زړه تنګيده، پورته شوم، که څومره ټينګ شول؛ خو زمکه راته سور تنور شوې وه، د پاتي کيدو امکان نه و. ټکنده غرمه ترې بيرته پياده را وخوځيدم.

سخت مې ترې زړه بد شو، ما ويل زه په کوم نيت راغلی وم او دوی کوم مجلس روان کړی و. ملګرو!

کله چې کوم دغسي ډک زړه خپلوان يا ملګری در کره راغلو؛ بيا نورې کيسي او معاملې پريږدئ، داسي مجلس وکړئ چې هغه مو خواخوږي محسوس کړي او په مصيبت کې د يواځيتوب احساس ونکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولۍ